
# د افغانستان د ځنګلونو ساتنه وکړو

د افغانستان د ځنګلونو د ساتنې پروژه

MADERA

*MADERA, 53 C 11, Gul Mohar Lane,*
*University Town, Peshawar, Pakistan*
*Tel : 42234*



# د افغانستان د ځنګلونو ساتنه وکړو

PROPERTY OF
ACKU
33495

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00033495 2

Download from: aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحیم

**مقدمه** :- دانشریه د مدیراد کمیتی له خوا لیکلی او
چاپ شویده. د مدیراکمیتی له "۱۳۶۴" کال څخه د کنړ و نورو په
ولایت کښی مجاهدینو، او خلکو سره مرسته کړی.

پنځه کاله کیږی چه مونږ د حیواناتو کلینکونه سمبال کړی
تجربه او سره هم ئې مینداره و ترلاسه کړی. اوس غواړو
چه یو څه کار د افغانستان په ځنګلونو کی هم وشی.

په دی نشریه کښی یو څه لارښوونی د ځنګلونو په باره کښی
تشریح کوو. چا چه په ځنګلونو کښی کار کړی وی او تجربه
پکښی لری هغوی ته به دا حقیقت څرګند شی چه دا نشریه
په ساده ژبه لیکل شوی چه بزګران، ښپانه او نور خلک
ورباندی پوه شی.

مونږ هیله لرو هغه کسان چه دا نشریه لولی بیسوادو
کسانو ته ئې هم ولولی او لارښوونه ورته وکړی.



Download from: aghalibrary.com

# ترتیب

## لمړی فصل

### ځنګل څه دي!

۱- ځنګل د خدای (ج) یو لوی نعمت دی.

۲- ځنګلونه څنګه پیدا کیږي.

۳- شکران او کفران د نعمت.

## دوهم فصل

### ځنګلونه په افغانستان کښې.

۱- د افغانستان ځنګلونه ویران شوي دي.

۲- ځنګلونه د هغه قومونو او خلکو ملکیت دی چه هلته اوسیږي.

یوازې محلي خلک په افغانستان کښې کولی شي چه د ځنګل ساتنه وکړای شي.

۴- افغانستان بیا ودانولو لپاره لرګو ته ضرورت لري.



Download from: aghalibrary.com

# دریم فصل

څه به منځ ته راشي کله چه لو ځنګل پرې شي.

۱. دوه امکانات.

۲. دلمر اثرات.

۳. ډیر اوبه را خپرې کول خطر لري.

۴. زیاتر لو سره مځکه لو خیږي.

۵. سیلابونو او د چینو وچیدل.

۶. ځنګل زموږ ضرورتونه رفع کوي او موږ باید ده غه ساتنه وکړو.

# څلورم فصل

د ځنګل څخه په علمي توګه استفاده کول.

۱. یواځې د افغانستان لپاره دې ونې پرې شي.

۲. قطع باید په کوچینو قطعاتو کښې اجرا شي.

۳. د نیالګیو ایښودل او ساتنه په وران شوو ځنګلونو کښې.



Download from: aghalibrary.com

۴- د ځنګل د بنه کیدلو لپاره یکه کول.

۵- د فنی کسانو روزل.

۶- د لرګیو د ضایعاتو د مخنیوی لپاره له ارهٔ ای سره پریکول
بنه دی نسبت و تبرته.

۷- د سون د لرګیو د لږ مصرف دپاره د مدرن بخاریو نه استفاده کول.

## نتیجه

ACKU

# لمړی فصل

ځنګل څه دی!

۱. ځنګل د خدای (ج) یو نعمت دی.

۱-۱. ځنګل یو شمیر ونې چه د ځمکې یوه لویه ساحه ئې احتوا کړې وی. ځنګل په نامه یادیږی. خدای پاک (ج) ټولې ونې، بوټی او نور نباتات پیدا کړی دی لکه چینونه طبیعی ځنګلونه او ټول هغه شیان چه مونږ ته را کړی.

۱-۲. طبیعی ځنګلونه خدای (ج) پیدا کړی او د ونو د مختلفو ډولونو څخه ترکیب دی. د مثال په توګه د کنړ، پکتیا، ننګرهار او لغمان په ولایتونو کی خپری ځنګلونه چلغوزه، ګرګری او داسی نور.

څرنګه چه خدای پاک (ج) دا ټولی ونی پیدا کړی مګر د خپری ونی په یوه نیاته پیمانه لیدل کیږی. برعکس هغه ځنګلونه چه د انسانو په واسطه منځ ته راغلی وی هغه

ځنګل یو اځی له یوه نوعه تخته تشکیل شوی ځکه چه -
انسان یو ضعیف مخلوق دی او د هغه د لاسه جوړ شوی
شیان مکمل نه دی نسبت د هغه شیانو ته چه لوی خدای (ج)
جوړ کړی دی نو په کار دی چه طبیعی ځنګلونه وساتل شی
ځکه چه که هغه وران شی حتی د ډیر دولت او علم په
واسطه هم مونږ نشو کولی چه هغه بیرته لکه چه مخکی
وه جوړ کړو. او دا یوه لویه ګناه ده چه د خدای پاک پیدا کړی
شیان وران کړو.

۱-۳- د ځنګلونو دولونه ډیر دی او هغه ولو باندی
تعلق لری چه ځنګل تری جوړ شوی او په افغانستان کی
دا دول ځنګلونه پیدا کیږی.

په شمال کښی پستی ځنګلونه.

په پکتیا، کنړ، ننګرهار او لغمان کی: څیړی ځنګلونه، لمنځه ځنګلونه
بیجوړ او سرپ ځنګلونه. وحشی زیتون ګرګری ځنګلونه او ورسی نور.

۲- ځنګل ځنګله پیدا کیږي:

دا د ځنګل د نوع پورې تعلق لري لکه لمنځه. بېچوړه سرب او داسې نور چه دستن پالمي لرونکي ولې په نامه یادیږي. د دغو ونو د لرګیو څخه د هر راز ودانیو او فرنیچر د پاره کار اخیستل کیږي.


د ګرګرې د ونو څخه میوه لاس ته راځي او د زیتونو ونو څخه د حیواناتو لپاره خواړه برابریږي.

د ځنګلونو څخه د ګرد مولګي، سوند لرګي حیواناتو لپاره خواړه او میوې قیمتي مرخیړې، طبي نباتات او صمغ لاس ته راځي. ټول دا نعمتونه اقتصادي ارزښت لري.

او په دریم فصل کې به وګورو چه د ځنګل په واسطه د منطقې آب و هوا ښه کیږي او د خاورې ساتنه هم کیږي.

هغه ځای کې چه ځنګل نشته آب و هوائي وچه وي او بارانونو څخه یې سیلاب جوړیږي.

دځنګل څخه ډیر شیان لاس ته راځي



لمړی رسم

تومعلومه شوه چه آب هوا یو بې قیمته (په بیسو نه اخیستل کیږي) نعمت دی.

## ۳- شکران او کفران د نعمت

لوی خدای (ج) انسان پیدا کړی او د هغه د بقا لپاره ئې نا پایات شمیر نعمتونه هم ورته کړي دي. انسان باید الله (ج) ومنی او د هغه نعمتونه په یوه منظمه او سمه طریقه وساتي. څوک چه د خدای (ج) د نعمتونو د ساتنې لپاره نه پاره باسي او هغه ته وده ورکوي نو هغه د نعمت شکران په ځای کوي. د غه ډول کارونه موږ ته دوه د وله کارونه لپاره کولی شو.

دپاک خدای (ج) فرمان په ځای کول او فکر کول خپل ځان او خپل راتلونکي نسل ته.

موږ باید هغه ځای ته چه ځانی ګټه کوي پام وکړو، لږ ساه د خپل شخصي ګټې لپاره کولای شي چه ټول

مملکت وران کړي، او خلکو ته مصیبت، سیلابونه وچینا او قحطي منخ ته راوړي، دغه سمي د خدای ج په نعمتونو باندې کفران کوي.

که انسان د پاک خدای ج، د وړکړو څخه په علمي قانوني او په مجموعي توګه کمه اخلي نو خدای پاک ج، دغه سمي د خپلو نعمتونو لایق وبني او خپل نعمتونه ورته زیاتوي.

# دوهم فصل

## په افغانستان کښې ځنګلونو ته خطره،

۱ـ د افغانستان ځنګلونو کښې لاس وهل شوي دي.

۱ـ۱ـ په اوسني وخت کښې ځنګلونه په افغانستان کې لږ دي.

مخکې د چنګیز خان د راتګ څخه په (۶۰۰) هجري کال کښې، افغانستان له جلال آباد څخه تر هراته پورې د یو باغ په شان و لا.

د چنګیز خان لښکري هر چیرته چه تللي هلته به ئې اوړ وړ ته کاوه. او باخوند به بیدیا بدل شو. اوس لوی ځنګلونه یوازې د کنړ، ننګرهار، پکتیا او لوړه لغمان په ولایتونو کې دي.

که ځنګل په دغه ولایتونو کې هم وران شي، نو هوا به هم هغو منطقو کښې بدله شي.

-۲- په اوسني حالت کښې د افغانستان د ځنګلونو په مقابل کښې څه لاس وهنه شته!

لاس وهنې ډیرې دي خو په عمده توګه د ګردو لرګیو لیږل خارجي مملکتونو ته ده. دا ځینې اشخاصو لپاره یو عایداتي شغل دی چه له پخوانه ئې ځنګلونه د کنړ او پکتیا په ټولو دړو کښې وران کړي او له منځه وړي دي.

بله لاس وهنه د ځنګلونو څخه د زراعتي ځمکې جوړول، او هم ئې د څرځایونو بدلول ده.

په هغه کلیو کې چې نفوس ئې یا تیر یې خلک د ځنګل څخه
د څرځای او ونه، اعتی محصله تر لاسه کوي او په نورو ځایو
کښې خلک د سوند لرګیو تر لاسه کولو لپاره ونې پرې کوي.

۱-۳- ځنګلونه زموږ د ګټې لپاره دي، بدونه که ترې یې په
علمي، قانوني او مجموعي توګه ګټه واخلو. ځنګل د یوه
باغ په شان دی، که هغه وران شي، هلته به نور د
حیواناتو لپاره د څرځای، د سوند د پاره لرګي او هم
شغل (کار) به نه وي.

۲- ځنګل په هغه قوم یا خلکو پورې تعلق لري چې ځنګل
کې ژوند کوي.

د اسلامي دودونو په برتله ځنګلونه په هغه قومونو
او خلکو پورې اړه لري چې هلته په کښې ژوند
کوي او ځنګل د هغوی شتمني ده چې دا شتمني
په دوه ډوله ده. فاميلي شتمني او په مجموعي توګه شتمني.

دغه دوه ونوته باید احترام وشی، غیرحکومتی موسسات
له پیښاور څخه افغانانو سره مرسته کوي. د همکارۍ
لپاره د محلي خلکو سره یوځای کار کوي د هغه حقوقو ته
احترام لري او په خاصه توګه د هغوی د شتمنۍ او له هغې
څخه مشروع استفاده کول.

۳- یوازې محلي خلک کولای شي چه په افغانستان
کې د ځنګل ساتنه وکړي.

۱-۳- ځنګه چه ځنګلونه خلکو پورې اړه لري، هغوی
باید د خپل ځنګل ساتنه او حراست وکړي، که هغوی
دا کار ونه کوي نو بل څوک به ئې وکړي.

د محلي خلکو نه په غیر بل څوک کافي قدرت
نه لري چه د ځنګل ساتنه وکړي. په نورو مملکتو-
نو کښې لکه افریقا، حکومت د ځنګل لپاره د خلکو په مقابل
کښې جنګیږي. ډیر واقع کیږي چه خلک جګړه وکړي


ځنګل خلکو پورې اړه لري خلک باید ځنګل وساتي

مګر بیا هم ځنګل ورانوي. بیا حکومت له سره نیالګي ږدي
او نیالګي هم د خلکو د حیواناتو په واسطه له منځه ځي
هغوی باید د ځنګل لپاره وچنګین ری. ځنګل پوهان باید
په علمي توګه د خلکو سره مرسته وکړي قانوني او په مجموعي
توګه ترې استفاده وکړي. یوازې علما او ځنګل پوهان کولای
شي چې خلکو ته لارښوونه وکړي او مواد ورته راوړي. محلي
خلک باید ځان تنظیم کړي. یو قانوني او اجتماعي اداره دي
لمړلو د ځنګل خاوندانو لپاره د جرګې په واسطه انتخاب کړي.

۳-۲- د جنګ په کلونو کښې نږدې شمیر افغانان پاکستان ته مهاجر
شوي دي. خپل پلرني ځمکه او خپل ځنګلونه ئې وران کړي
دي. ځکه چې نږدې ټولې ونې پرې شوي او اوس
خړخیږي. خلک د خپلو ځنګلونو څخه لرې دي او د
خپلو ځنګلونو ساتنه نه شي کولای. ځنګل د حریصو
کسانو په واسطه پرې او خړخیږي. نو لازم دي چې خلک

او همغه خوک چه په کمپونو کښي اوسيږي هرڅه چه کولای شي د خپلو عامه شتمنيو لپاره يې وکړي.

۴- افغانستان د بيا ودانولو لپاره لرګيو ته ضرورت لري،

د افغان مهاجرينو شمير پنځه مليونو ته رسيږي. د هغوی کورونه په افغانستان کې وران، او د بيا ودانولو لپاره لرګيو ته ضرورت لري. خو په کافي اندازه لرګي به پيدا نکړي. د لرګيو قيمت به زيات شي او وروسته له جنګ څخه د لرګيو قيمت به په افغانستان کې نظر و پاکستان ته ګران شي.

موږ بايد خپل لرګي د جنګ وهلي افغانستان د بيا ودانولو لپاره وساتو.

# دریم فصل

## خه به واقع شي کله چه ځنګل پرې شي

۱- دوه امکانات شته.

دونې دپرې کولو او یا وچولو نه وروسته پدیوه ټوټه مځکه کښې دوه شیان واقع شي. ځنګل به بیا منځ ته راشي او یا به هغه ویران شي دلاندې مطالبو پورې اړه لري، هغه ځای کښې چه ونې پرې شوې وي د هغه ځای هوا ګرمه ده او که یخ.

هغه ځای کښې چه ونې پرې شوې وي ساحه پراخه ده او که لږه.

دحیواناتو څرول هلته ډېر دي او که لږ.

## ۲- دلمر تاثیرات:

ځنګل دچترې په شان ځمکه دلمر د ګرمې څخه ساتي او په ځمکه سورې کوي کله چې ځنګل پرې شي

ACKU

دلمر وړانګو ګرمۍ، په واسطه هغه ځای وچېږي.
داد هغه ځای د موقعیت پورې اړه لري چې د لمر ته مخامخ
دي او که نه. یا دا چې هغه ځای ګرم دی او که یخ.
۳- د ځمکې پراخ پرې کول خطر لري. که چېرته مونږ ونې په
کوچنۍ قطعاتو کښې پرې کړو هلته به د وچېدو تاثیر
نه وي. او که مونږ په لویه لویه ساحه کښې ونې پرې کو او هغه
ځای هم د لمر وړانګو ته مخامخ وي هغه ځای
به ډېر وچ شي. که هلته نیالګۍ شنه کېږي لږ به
ریښې لري او نه شي کولای چې ډېرې اوبه پیدا
کړي. په هغه ځای کې چې ونې پرې کېږي که هوا ډېره
ګرمه او یا ساحه پراخه وي نو نیالګۍ هم نشي کولی
چې ژوندي پاتې شي. نیالګي هغه وړه ماشومانو ته ورته
دي چې د خپل ودې او ژوند دپاره د مور او پلار
ږ دیوالي ته ضرور ت لري. او که د هغه نیالګي

وچ شی طبیعي ځنګل چه خدای پاک پیدا کړی
دهمیش لپاره به یې هغه ځای کښی وران او له منځه
ولاړ شی.

اوس مونږ پوهیږو چه په ځنګل کی دونی پړی
کول څو کوچینی ځایونو کی نسبت وپړی کولو ته په
یوه پراخه ساحه کښی، او په خاصه توګه په لرګو سیمو کښی
ښه ښونی. ځنګل هم یو انسان ته ورته دی چه له څو
کوچنیو ټپونو څخه به ژر جوړ شی او له یو لوی ټپ
څخه به ژر جوړ نه شی.

۴- ډیر څروول د ځمکی د لوڅیدو سبب ګرځی.
که چیری یو زیات شمیر حیوانات یو ځای کښی چه
هلته ځنګل نه وی وڅروول شی، هغوی به د نباتاتو او
نیالګیو د شنه کیدو مخنیوی وکړی او حیوانات به خکی
له دی نه چه د نباتاتو تخم یو خ شی د هغه تخم

اوم وخوری پر را تلونکی کال کښې به هلته نباتات لن وي
او په آخر کښې به هلته نوموړي ځي که لوڅه پاتې شي. ځکه
به په مکمله توګه د لمر وړانګو او بارانونو ته مخامخ وي
داځکه چې د ځمکې چتر چه ځنګل وه د ځمکې له مخ -
څخه له منځه وړل شوی نوری ګیاګانې او بوټي
هم د حیواناتو په واسطه خوړل شوي او ځکه لوڅه پاتې ده:

## ۵- باران په ځنګل باندې.

کله چې باران ځنګل باندې ورېږي، د باران اوبه د ونو
بوټو او ګیاګانو په سر پاتې کیږي. دغه اوبه ورو ورو، ورو
د څاڅکو په شکل او د ونو د تنې له لارې ځمکې ته راځي
ځکه لوڅه نده د ګیاګانو وچو پاڼو او څانګو په واسطه پوښ
شوېده دغه پوښ نه پرېږدي چې د باران اوبه په کوچنی
جرونو کښې حرکت وکړي او د اوبو سرعت کم کړي.

ACKU

په نتیجه کښې ځمکې ته ډېر وخت پیدا کیږي چه د باران اوبه
جذب کړي او یوه کمه اندازه د باران اوبه دوه جهتونو ته ځي
یوه حصه د باران اوبه ځمکه کښې جذبیږي او د ځمکې
عمیقو اوبو ته رسیږي او بالآخره په چینو کې د ځمکې
نه بیرته راوځي او بله حصه د اوبو د تبخیر په واسطه هوا ته
ځي. دغه حصه اوبه هم لکه د عمیقو اوبو په شان
منطقه کښې پاتې کیږي. دا اوبه د هوا رطوبت دي
او د هغه څخه وریځ او باران د منطقې په سر پیدا کیږي
دا ځکه چه ځنګل پر آب و هوا باندې اغیزه لري. کله چه
باران په ځنګل باندې وریږي ډیرې اوبه ځمکه کې
جذبیږي. واوره د ځنګل په منطقه کښې هم ژر نه
بلکه ورو، ورو ویلې کیږي چه هغه هم ځمکې کښې جذبیږي
او په لاندې ځایو کښې (دغرو لمنو کې) د چینو له لارې بیرته
له ځمکې نه خارجیږي.


ځنګل لرونکې منطقه یوه غني منطقه ده.



دځنګل له منځه تلو نه وروسته فرسایش او داوبو وچیدل منځته راځي.



PROPERTY OF ACKU 33495



د فرسایش او اوبو چیدو نه پرته د خاوره ونښتوالی هم منځ ته راځي.

## ۶- سیلابونه او د چینو وچیدل:

کله چه په لوځو ځایونو باندی باران وریږی او به په چابکی او وحشیانه توګه د ځمکی په سر حرکت کوی هیڅ شی وجود نه لری چه دا او بو مخه چه ښکته خواته بهیږی ونیسی د باران او بو څخه سیلاب جوړیږی د ځمکی خاوره اخلی. د آبیاری نیروندا ولوړی ودانی وړانوی. ځکه وختنلری چه د باران او به جذب کړی لوځکه د ځمکی لاندی اوبه لږی دی.

چینی او چین ی ځکه چه هغوی خپلی اوبه د ځمکی لاندی او بو څخه اخلی. رطوبت د منطقی په فضا کښی لږ او باران هم کم وی. نو لو د باران دا و بو څخه قوی سیلابونه جوړیږی او د منطقی نه بهرځی. د منطقی ځکی او هوا کښی څه شی نه پاتی کیږی.

د مثال په توګه په کڼرا و پکتیا کښی هرچالیدلی

جدماران له پخوانه لې دی او په سلها وچینې د
ځنګل د منځه تللو څخه وروسته وچې شویدی.

۷- ځنګل نه مونږ ضرورت رفع کوی او مونږ هم باید دهغه ساتنه وکړو.

ځنګل دچیر پدشان دهغی ساتنه دلمر دګرمی او د باران دشدت په مقابل کښی کوی. ځنګل هم د آب وهوا او دچینو ساتنه کوی او اوس مونږ پوهیږو وچه څرنګه په راتلونکی کی دځنګل ساتنه وکړو. دونې پریکول په کوچنی قطعاتو کښی ښه دی نسبت دونې پرې کولو ته په یوه لویه پراخه او اسانه ځای کښی که څه هم پریکول په کوچنی قطعاتو کښی سخته ده مګر د آب و هوا لپاره ځنګل ته خطر نه لری دحیواناتو څرول چیرته چه ځنګل له منځه تللی په یوه مناسبه اندازه چه ځمکه لوڅه نه شی اجرا شی. د څرځایونو لرل یو عادی او عام ضرورت دی مګر دحیواناتو رمی

باید د دوبې په آخر کې د منې د څړځایونو ته ننه ړانـد
وستل شي، ترڅو د گیاگانو او م تخم وند خوړې او هم
باید نوي نیالگي هلته و ساتل شي.

مونږ کولای شو چه د تبر په ځای د اړې څخه کار واخلو
د لرگو ضایعات د اړې په استعمال سره لږ کړو او د سوند
لرگیو لپاره د اصلاح شوو بټو او بخاریو څخه کار واخلو.

# خلورم فصل

## د ځنګل څخه په علمي طریقه استفاده کول:

په دغه فصل کښې مونږ د ځنګل د ښې استفادې په غرض یو څو مهمې طریقې تشریح کوو چه د یوې خوا د ځنګل ساتنې او د بلې خوا د ځنګل څخه صحیح بهره برداری وکړو.

۱- یواځې د افغانستان لپاره باید ونې پرې شي.


۱-۱- په سرحدي ولایتونو کښې چرته چه شته او فعال دي هلته ځنګل د حریصانو څخه ساتل شویدي. د ونو پریکول یواځې د کور جوړولو لپاره مجاز دي. په هغه کلیو کښې چه نښتر ځنګلونه ډیر او ګڼ دي که په علمي او فني توګه یوه اندازه لرګي هم وپلورل شي بده نه ده. مګر دا چه دغه لرګي په افغانستان کې د بیا ودانولو لپاره پاتې شي او د ونو پریکول خارجي مملکتونو ته د لیږلو په خاطر قوي

قوانینو او جرګو له مخې منع شي.

۱-۲- په هغه کلیو کښې چه ډیرې ونې له ځنګل څخه د څرځایونو په مقصد وچې شویدې، دغه وچې ونې باید پرې شي ځکه چه اکثراً ورستیږي او په ځمکه باندې لویږي او لاره بندوي بیا خلکو په واسطه چه د حیواناتو لاره خلاصې شي هغو ونو ته اور ورته کوي مګر اور د ځنګل لپاره ډیر بد دی ځکه چه ځمکه لوڅ او بربنډه کوي نو باید وچې ونې پرې شي او د هغوی څخه استفاده وشي او د اور په واسطه ونه سوځول شي. دا مه هیروئ چه د غه لرګي بازار شته او ډیر قیمتي دي او افغانستان د بیا ودانولو لپاره هغه ته ډیر ضرورت لري.

## ۲- پریکول په ورو ورو قطعاتو کښې:

کله چه ونې د کور جوړولو په مقصد پرې او یا څرځایو-نو لپاره پوستکیږي یو لځی د ځنګل د پاکولو لپاره په کوچنی




شیرم رسم

یری کول یه کوچنیوق قطعالتو کبنی سنلادی نسبت یوی یرلخی ساحی ته.

قطعاتو کښې باید ونې پرې شي که څوک ونې په لویه پراخه
ساحه کښې پرې کوي او یا وچوي هغه ځای به د لښ په
واسطه ززوچ شي. څرنګه چه مونږ په دریم فصل کښې
تشریح کړه چه پرې کول او پوست کول په لویه پراخه ساحه
کښې باید د قومي قوانینو په واسطه منع شي.

۳- نیالګي اینبودل او د هغه ساتنه په وړانو شوو ساحو کښې:

۳-۱- د نیالګي اینبودل په وړان شو ځنګلونو کښې کیدلای
شي. دا یو څه وخت ته ضرورت لري چه نیالګي تهیه او کینول
شي او دا ډیر قیمت هم تمامیږي دا بد ډیره ښه وي چه په
لمړي قدم کښې هغه نیالګي چه په غرونو کښې په طبیعي توګه به
طبیعي ځنګلو کښې شنه شوي وساتل شي. چیرته چه شړونګ
ونې او نیالګي نه شو ساتلای نو بیا نیالګي ولې کینو وځکه چه
نه یئ شو ساتلی. محلي له دینه چه نوي ځنګل کینول شي
باید هغه ځنګلونه چه خدای ج پیدا کړي دي وساتو.



اووطرسیم . دفن و نیالګو احاطه کول او ساتنه.

## ۴- د ځنګل د ښه کیدلو لپاره اړیکه کول؛

۴-۱- ونی هم لکه نورو نباتات د خپلو ریښو په واسطه اوبه-
چښی او د پاڼو په واسطه د لمر وړانګی او روښنایی اخلی
او د انسانانو په شان هضم کوی چه خپل ګاونډی څخه زیاد
مواد اخلی. د دی څخه دا معلومیږی چه د نباتاتو او ونو
په منځ کښی هم رقابت موجود دی.

۴-۲- کله چه یو ځنګل کښی تولی ونی یو بل سره نښتی وی
هغوی تول داوبو او روښنایی له خاطره یو بل سره مجادله
کوی او نه پریږدی چه د لمر روښنایی لاندی د ونو څخه
لوړو بوټو او ګیاګانو ته ورسیږی. د غه راز ځنګل ته
ګڼ ځنګل وائی. ځکه چه د ونو ریښی او څانګی یو بل
سره ډیری نژدی وی هغه ځنګل کښی ونی ډیر په ورو
وده کوی. او حیوانات د ونو لاندی څر نه شی کولای.

۲- برعکس یې د ځنګل کښې چه ونې سره نښتې نه دي
د خلاص ځنګل په نامه یادیږي. په خلاص ځنګل کښې
ونې یو بل سره مجال د لدنه کوي او ښه وده کوي. حیوانات د
ونو لاندې کولای شي چه وګرځي، ځکه چه په کافي اندازه
روښنایي د ونو څخه لاندې لوېږي او بوټو او ګیاه ګانو ته
هم رسیږي.

۴-۳- که په ځنګلونو کښې کار وکړو خلاص ځنګلونه به
علمي او فني توګه وده او انکشاف ورکولای شو. ځنګل
هم د جوارو ډیکه کولو په شان دی.

قوي او ښکلې ونې که وساتل، ضعیفې ونې به پرې
شي. په خلاص ځنګلونو کښې لمړی د هغه ونو څخه -
ګټه اخلي چه پرې شوې وي. تاسې هم ځنګل پکه کړي
چه حیواناتو ته د ګرځیدلو اجازه ورکړ شي او ونه وپاتې
ونو د پاره ساحه پراخه شي.


اتم رسم




دغه ونه یوازې ده. د لمر وړانګې ښې اخلي نو ځکه یې به وده کړې.



دا دوه ونې ډیرې سره نژدې دي. د لمر وړانګې ښې نه شي اخیستلای نو ځکه یې ښه وده نه ده کړې.



دیکه کولو لپاره د مناسبو ونو نښه کول



نهم رسم — په ځنګل کښې دیکه کولو نه وروسته لوی بدلون.

# ۵. د فني کسانو رول.

۵-۱. ځنګل پوهان همیشه خلکو ته د ځنګل په برخه کې لارښوونه کوي ترڅو هغوی وکړای شي چې خپل ځنګل وپیژني او د خپل ځنګل په برخه کښې ښې فیصلې وکړي نو د هغه لپاره دا نشریه لیکلې شوې او په راتلونکې کښې به هم ادامه ورکړي.

۵-۲. موږ غواړو چې محلي خلک په افغانستان کې وروزل شي څرنګه چې د هر ځنګل لرونکې منطقې نه څو کسان وروزل شي. هغوی به د خپل ځنګل د ښه کېدو لپاره کار وکړي خپلو خلکو او هم ځنګل پوهانو سره رابطه ولري، هغوی به د کلي خلکو ته لارښوونه وکړي او د کال د قطع او ځنګل ساتنې پروګرام به عملي کړي.

۵-۳. د نومړو فني کسانو په څنګ کې غواړو چې ډېر پوه نجاران هم وروزل شي او هم د ځنګل د بیاودانولو لپاره په

قوي چاتو کښې هم د فني کسانو روزل ضروري دي.

۶- دلرګيو د ضايعاتو د مخنيوي لپاره آرې سره پريکول ښه دي بنسبت تبرته:

دو لو پريکول او چاره تراش جوړول آرې سره ښه دي نسبت تبرته. دلرګو د ضايعاتو نه به جلوګيري وکړي دوخت د ضايع کيدلو څخه مخنوی او کوشش به زيات شي. پوه نجاران وايي چه تبر سره کار کول ديوشي د جوړ ولو لپاره کدرې ورځې ولګيږي. حال دا چه دارې سره يوائي يوه ورځ کافي ده. په راتلونکي کي غواړو چه په ځنګلي منطقو کښې دير شاګردان وروزل شي او د نجارۍ زده کړه به وکړي او پوه شي چه څنګه دارو سره کار کيږي.

۷- د سوند لرګي دلږ مصرف لپاره دمدرن نجارۍ کانو او تعزو څخه استفاده کول:

د ختمونه جوړه شوی مرو چه لغری دير دلرګو

د آرې سره کار کول ښه دی نسبت و تبر ته ځکه دلرګو د ضایعاتو نه مخنوی کیږی.





یوولسم رسم     د لرګو د لګښت لپاره د مدرن بخاریو او نغریو څخه استفاده کول.

مصرف لږی نسبت ونوکی او مدرن بخاریو او نغریو ته
که څوک حاضروی چه د هغه څخه استفاده وکړی
کیدای شی چه د محلی آهنګرانو په واسطه جوړ شی
چه د هغه بخاری د کار اخیستلو سره به د کور ښځی لږ
و لرګیو ته ضرورت ولری هم به د وخت د ضایع کیدو نه
مخنیوی وشی او هم به د ښځو رنځ چه د ډیرو لرګیو ټولو
له کبله په غرونو کښی دی لږ شی. مدرن بخاری نظر و
مروج نغری ته زیات خلک کوی او هم ډیر اقتصادی دی.
څرنګه چه لږ و لرګیو څخه کار واخیستل شی نو ځنګل
به هم وساتل شی.

## نتیجه:

طبیعی ځنګلونه خدای پاک (ج) پیدا کړی. هغه لکه د باغ
په شان دی. د خدای پاک پیدا کړی شیان له منځه
وړل لویه ګناه ده، مصیبت او بلا لکه سیلابونه منځ ته راوړی

هوا او چینی وچینی ی. مګر معقول کار اخیستل د ځنګل
د تولیداتو څخه بند دی؛

داد نعمت شکران دی. د آسانه نه ده بلکه د خاص
پوهی پوری اړه لری. لکه د حیواناتو ساتل او زراعت چه
خاص پوهی ته ضرورت لری. د ځنګل پوهه هم باید
په خلکو کی وده وکړی. د هغه له کبله مونږ ه دانش په لیکلی
ده چه خلک پی ولولی او ګټه تری واخلی. ځنګل دیوی
خوا څخه زراعتی نباتاتو ته ورته دی او د بلی خوا —
څخه دیوی رمی (پسونو او بزو) ته ورته دی؛

لکه د جوار و د کښت په شان ځنګل باید وساتل شی او
هم په منظمه او علمی توګه یکه شی ځنګل پوه للمی کښت
ته ورته دی، او په نه ورکول کیږی. لوی ولی او بزدی
ریښی لری او پیری او په دخاوره ونه اخیستلای شی
مګر نوی نیالګی به ومری ځکه چه په کافی اندازه او په تښته

دهغه ځای آب وهوا وچېږي ده. نو ځکه ځنګل هم له منځه ځي. طبيعي ځنګلونه د هميش لپاره نيالګي ايښودلو ته ضرورت نلري بلکه د يلو رمي په شان دي.

نيالګي هم د خوسکيانو او وزرګو په شان په طبيعي توګه پيدا کيږي.

د ګرد م او سوند لرګي ساتنه هم لکه غلې داني او شنيدو ساتني په شان دي. يو لوی توپير چه د ځنګل کښت او رمې په منځ کښې شته هغه دادی چه ځنګل سل ها وکلونو ته ضرورت لري چه وده وکړي او برسېره د يوه کلي په ځنګل کې بايد هميش د عمر له لحاظه دولو ـ مختلف طبقات موجود وي لکه،

نيالګي، ځواني ونې، او رسيدلي ونې.

څنګه چه يو سړی د خپل غوړنيکه دوخت دولو څخه لرګي اخلي، او هم بايد د ده وخت رساتل شوو

نیالګو څخه د دکروسی استفاده وکړی داوړی منظمی
طریقی ته ضرورت لری خلک د ځنګل خاوندان دی.
هغوی باید خپل ځان منظم او قانونی وګرځوی یو قوم
ته مربوط ځنګل باید یو قومی هئیت د ټولو دیری کولو، د وړلو
پوست تړلو او هم د نوی نیالګو د ساتنی دپاره ولری
ترڅو تصمیم ونیسی. موږ غواړو چه خلکو سره مرسته
وکړو و ترڅو خلک خپل ځانونه تنظیم کړی د هغه دپاره
مواد او د ځنګل پوهه او عمل شی اجازه راکړی دخلاصی
په لوګه دالاندی مطالب ذکر کړو.

- دځنګل لرونکو سیمو لپاره باید فنی کسان ور وزل شی.
- ځانګړی او د لرګو کارکوونکی کسان دی ور وزل شی.
- د کار ضروری آلات مواد او دارو رواجول.
- د ځنګلی او د میوو د نیالګو د تولید لپاره د قوری یو جوړولو ضرورت.

- په وران شوو ځنګلونو کښې د نیالګو ایښودل.
- ځنګل ته په فني او علمي توګه وده ورکول.
- د اوسني او موجوده طبیعي ځنګلونو ساتنه.
- د ځر ځالونه دې تنظیم شي.
- د حیواناتو د ښکار وخت او اندازه په ځنګلو کې معینه شي.

ومن الله توفیق

لیکونکی: محمد اسمعیل او اولي وفي دعجب

ترجمه کوونکی: رحمان ګل او محمد اسمعیل

رسام: محمد رحیم «شرف»

PROPERTY OF ACKU 33495

B
5.12
MOH
922
cp. 2

# وگوره ځنګل ښکلی دی

